NHS

UK Health Security Agency

## برتانیې ته راغلی یې:

# خپل واکسینیشن بیا تازه کړه



## ایا ته یا ستاتر پالنې لاندې کوم بل څوک ناروغ دی؟

Call 111

**این ایچ ایس ۱۱۱** ته زنګ ووهئ که تاسې ژر طبي مرستې یا مشورې ته اړتیا لرئ مګر ستاسې ژوند له خطر سره نه وي مخامخ. تاسې هله هم این ایچ ایس ۱۱۱ ته زنګ وهلای شئ کله چې تاسې پوهېږئ نه یاستئ چې له این ایچ ایس څخه څرنګه خدمت غواړئ.

**له خپل ځایي فارماسیسټ څخه مشوره وغواړئ**- ستاسې ځایي فارماسیسټ تاسې ته د ډېرو ورو ناروغیو په هکله مشوره درکولای شي، لکه دستونه، کوچنۍ انفیکشن، سردرد، د سفرمشوره یا خوږ ستونی

له خپل جي پي سره ملاقات وکړئ که چېرې تاسې د ناروغۍ احساس کوئ خو بېړنی حالت مو نه وي

**ووه واک این سنټر، ماینر انجریز سنټر یا ارجنټ کېر سنټر ته ورشئ** که تاسې لږ ناروغ یا خوږ یاستئ (غوځ شوی، لاس پښه مو اوښتې وي، داني لرئ) او ترهغو انتظار نه شئ کولای ترڅو چې ستاسې جي پي سرجري خلاصه شي.

999

**۹۹۹ ته زنګ ووهئ** که یوڅوک سخت ناروغ یا زخمي وي او ژوند ته یې خطره وي.

A&E

**د اې انډ اي ډیپارټمنټ** (چې ایمرجنسي یا کېژولټي ډیپارټمنټ یې هم بولي) د هغو بېړنیو حالاتو چاره کوي چې ریښتیا ژوند ته خطر پېښوي. د خلکو معاینه او درملنه د هغو د ضرورت سره سم کېږي.

UK Health Security Agency


UK Health Security Agency gateway number: 2019235

© کراون کاپي رایټ ۲۰۱۹ (MG235589 1P DEC 2019 (APS 2022


## کېدای شي ځینه خلک اضافي واکسینو ته اړتیا لري



کېدای شي په ځینو خلکو له انفیکشن څخه سختې ناروغۍ زیاتې لګېږي نو پکار ده چې د ژغورنې لپاره اضافي واکسین ورکړشي په دغو کېښې هغه کسان شامل دي چې داسې زړې ناروغۍ لري چې د دوی لوی غړي یا ایمني نظام یې اغېزمن کړی وي



**هیپیټایټس الف** کومو کسانو ته چې د هیپیټایټس الف خطر وي، په شمول د هغو چې د اینې ناروغي لري او هغه کورنۍ چې د دغه ناروغۍ پکېښې معلومه شوې وي نو هغوی واکسینو ته اړتیا لري



**هیپیټایټس ب** اضافي هیپیټایټس ب واکسین د هغو لپاره شته چې د اینې ناروغي لري یا هغه کسان چې د انفیکشن اخیستلو امکان لري (د بېلګې په توګه، هغه ماشومان چې مېندو یې هیپیټایټس ب لرلو یا هغه کسان چې یو داسې ملګری یا د کورنۍ غړی لري چې انفیکشن لري) له خپل جي پي څخه پوښتنه وکړئ چې تا ته یا ستا ماشوم ته هیپیټایټس ب واکسین پکار دي که نه.



**نرۍ رنځ** کوم ماشومان او لویان چې د زیات نري رنځ په سیمو کېښې ژوند کوي هغوی بي سي جي واکسینو ته اړتیا لري. د چا چې د کورنۍ نېږدې غړي په نري رنځ اخته وي هغوی هم بي سي جي واکسینو ته اړتیا لري.

**د این ایچ ایس اي د رجستریشن د اوسنۍ لاربنوونې د معلوماتو (پرایمري میډیکل کئر پالیسي اینډ ګایډنس مینول) او د کدوالو روغتیایي ضرورتونو په هکله د ایم بي اي لواړي راهنمایۍ په باره کېښې مهرباني وکړئ وګورئ: https://bit.ly/2hv37zc**


NHS

## زه له جي پي پریکټیس سره د رجستر کېدلو او د علاج حق لرم

Fixed_R-L_PHE_11152_Migrant vaccinations – DL leaflet 15_PS.indd 1-3

28/01/2020 13:18:42

## ستاسي او ستاسي د کورنۍ له خطرناکو ناروغيو څخه د ژغورنې لپاره واکسين تر ټولو خونديې لاره ده ـ دا له تاسو سره په روغ اوسېدلو کښې مرسته کوي.



په انګلستان کښې زياتره واکسين په اين ايچ ايس کښې مفت ورکول کېږي. واکسين تاسي د ټول عمر لپاره ژغورلای شي. تي خورو او خاړپوسو کوکو ماشومانو ته تر شوونځي لمخه ډېرې واکسين ورکول کېږي چې ماشومان ژرترژره وژغورل شي. په انګلستان کښې واکسين نښه منل شوي دي، نو څکه خو جبري نه دي.



په عامه توګه واکسين ستاسو د جي پي د پريکټس نرس لخوا درکول کېږي. پريکټس نرسان په ځانګړې توګه روزل شوي وي چې مشوره ورکوي او واکسين لګوي نرس به په احتياط ستاسو طبي تاريخچه وکوري، خو که تاسو يا ستاسو ماشوم روغ وي، نو بيا د ډاکټر لخوا معاينات ضرورې نه دي.

لويانو هلکانو ته په ښونځي کښې ځينو واکسين ورکول کېږي. لويانو ته عموما په جي پي پريکټس يا فارماسي کښې واکسين ورکول کېږي.



که چېرې تاسو داړه نۀ ياستئ چې تاسو يا ستاسو ماشوم په انګلستان کښې لازم واکسين نه دي اخيستلې – نو په جي پي پريکټس کښې تپوس وکړئ. په انګلستان کښې هيڅکله هم د ناغه شويو واکسينو تازه کولو لره ناختاه نه وي.

### له جي پي پريکټس سره راجستر کول

په انګلستان کښې هرڅوک په مفته توګه له جي پي پريکټس سره ځان راجستر کولای شي او د بنيادي علاج ډاکټر يا نرس سره کتلای شي. له جي پي پريکټس سره د راجستر کولو لپاره تاسو اړ نه ياستئ چې د پېژندلو ثبوت يا اميګريشن ستيټس وړاندې کړئ.

دا د هرچا لپاره دی، که تاسو پناه غوښتونکی، کډوال، بې کوره ناروغ ياستئ يا د بل هيواد مسافر، په قانوني يا ناقانونه توګه په انګلستان کښې ياستئ.

که تاسو ښيځي روغ رمټ ياستئ بيا هم پکار ده چې خان رجستر کړئ تاسو ته هيڅکله نه مالوميږي چې کله به مو طبي مرستې ته اړتيا پيدا کېږي او پريکټس کولای شي چې تاسو ته هغه خدمات درکړي چې تاسو روغ وساتي.



**که تاسو بدرګې يا ژباړن ته اړتيا لرئ، نو خپل جي پي پرېکټس ته ووايئ.**

## په انګلستان کښې هرچاته په کار ده چې ځان له جي پي سره راجستر کړي تاسي له هغه سره مفت ليدلای شئ او د خپلې پتې د ثبوت ضرورت هم نه لرئ

له جي پي سره د رجستر کېدلو په هکله تاسي په ليفلټ کښې جزيات موندلای شئ په
**www.nhs.uk/using-the-nhs/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-practice**

د ځينو علاجونو لپاره کېدلای شي چې ځان له جي پي سره رجستر کړئ، خو عادي واکسين مفت دي.

## که چېرې د روغتيا خدمت ته لاسرسی نه لرئ نو څه به کوئ؟

که تاسي اوس هم ستونزه لرئ نو ۱۱۱ ته زنګ ووهئ.

### بېلابېل هيوادونه بېلابېل واکسين ورکوي



ښه به دا وي چې تاسو له جي پي څخه تپوس وکړئ او داړ ترلاسه کړئ چې ايا تاسو ته هغه ټول واکسين درلګول شوي دي کوم چې دلته په انګلستان کښې مفت دي. دا کومه خبره ده چې ولي ناغه درخځه شوي، دا مهمه ده چې اوس يې پوره کړې او ځان وژغورئ.

کېدلای شي چې ځينه ناروغۍ په نورو هيوادونو کښې زياتې وي، نو څکه خو دا مهمه ده چې کله تاسو سفر کوئ چې خپلوان او دوستانو ووينئ دا وکورئ چې ايا تاسو اضافي واکسينو ته اړتيا لرئ که نه - ځينه سفري واکسين په اين ايچ ايس کښې مفت نه دي.

## په انګلستان کښې کله او کوم واکسين ورکول کېږي؟



واکسين تازه زېږېدليو ماشومانو، کم عمره ماشومانو، نويو ځوانانو، اميدوارو مېرمنو او زړو خلکو ته ورکول کېږي. تاسي د واکسينو د مهالوېش په باره کښې نور مالومات دلته موندلای شئ.
www.nhs.uk/conditions/vaccinations.که په برتانيې کښې له تاسو څخه د واکسينو کوم ټاکلی وار ناغه شوی وي، نو بيا به هم تاسو ته د ژغورنې اړتيا وي ان په زاړه عمر کښې له خپل جي پي يا نرس څخه تپوس وکړئ چې ايا تاسو د ناغه شوو واکسين له سره اخيستلو ته اړتيا لرئ که نه.



تي خورونکي او د خاړپوسو ماشومانو ته د واکسينو اړتيا ځکه شته چې دوی له ماشوموتوب څخه د شرې، والګي، روبېلا (ايم ايم ار)، روټاوايروس، ډيپتهيريا، شنه ټوخځ، ګوځن، ټيټانس، هيپيټايټس ب، نرۍ رنځ او نورو له لګېدلو څخه وژغورې.



چې ښوونځي ته لا نۀ ځي هغه ماشومان د پاس يادو شويو ناروغيو لپاره بوستر واکسينو ته اړتيا لري. دا له ماشومانو سره بهترو او اوږدمهاله مرسته کوي. د پرايمرۍ سکول ماشومانو ته هرکال د زکام واکسين ورکول کېږي.



نوي ځوانان د منينجايټيس په ګډون د ځينو ناروغيو له پاره اضافي (بوسټر) واکسينو ته اړتيا لري چې په لويېدلو کښې د دوی نه ساتنه وکړي دوی ته ايچ پي وي واکسين هم ورکول کېږي چې د ځينو کينسرونو مخنيوی کوي



که چيرې تاسو د ماشوم اراده لرئ نو تر اميدوارېدلو وړاندې وکورئ چې ايا تاسو خپل ټول واکسينونه اخيستلي دي – په ځانګړې توګه د ايم ايم ار دوه خوراکه.

که تاسي اميدواره ياستئ نو تاسي له شنې ټوخځ او زکام څخه د ژغورنې له پاره واکسينو ته اړتيا لرئ. پکار ده چې ستاسي د انفيکشن معاينات وشي لکه هيپيټايټس ب کوم چې له مور څخه ماشوم ته لګېدلای شي. ځينه ماشومان د زېږون پر مهال د هيپيټايټس ب اضافي واکسينو ته اړتيا لري.



مشران خلک له زکام، نمونيا او شينګلز څخه د ژغورنې واکسينو ته اړتيا لري.

**له خپل جي پي پريکټس نرس سره خبرې وکړئ او داړ ترلاسه کړئ چې ايا تاسي او ستاسي ماشوم خو عادي يا اضافي واکسينو ته اړتيا لري.**

Fixed_R-L_PHE_11152_Migrant vaccinations – DL leaflet 15_PS.indd 4-6
28/01/2020 13:18:43